MINISTÈRE
DE L'INTÉRIEUR
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*



# د پناه غوښتونکو لپاره
# سيمه ايزه لارښوونه

## ← سيمه ايزه لارښوونه څه ته وايي؟

- سيمه ايز لارښوونه د **هستوګنې يو ورانديز** دی چې تاسو ته هغه وخت وړاندې کيږي، کله چې يوه سيمه، چې تاسو پکې موقعيت لرئ، نشي کولی چې تاسوته ځای درکړي.

نو بيا تاسو د خپلې پناه غوښتنې د ټولې مودې لپاره د **فرانسې په يوه بله سيمه** کې د **پاملرنې** څخه ګټه پورته کولی شئ.

## ← ايا زه علاقمن يم ؟

- آيا تاسو د **پناه غوښتونکي** ياست؟ ايا تاسو د مستحکم استوګنه نه لرئ ؟ که تاسو **يوازی کس** ياست او يا  که د **کورنۍ** سره ياست، که ستاسو  **عمر** يا **تابعيت** هر څه وي، تاسو په يوه **سيمه کې د هستوګنې** په لور د لارښوونې څخه ګټه پورته کولی شئ..

- آيا تاسو **طبي ستونزې** لرئ ؟ په ټوله فرانسه کې، طبي مرکزونه، روغتونونه او ځانګړي مرکزونه ستاسو پاملرنه کولی شي.

که تاسو فکر کوئ، د هرڅه سربيره، چې تاسو د سيمه ايز لارښوونې وړ نه ياست، نو OFII به له تاسو څخه د **ثبوت وړاندې کولو** غوښتنه کوي.

OFII
OFFICE FRANÇAIS DE L'IMMIGRATION ET DE L'INTÉGRATION

## ← سیمه ایزې لاوښوونې څخه څنګه کټه ترلاسه کولی شئ؟



- د پناه غوښتونکو لپاره په ګیشې یونیک (GUDA) کې، د **OFII سره ستاسو د مرکې** په جریان کې په هر اړه خبرې کیږي، که چیرې تاسو استوګنځای نه لرئ، نو د OFII یو افسر تاسو ته په **سیمه کې د لاربنوونې وړاندیز** کولی شي.

بیا به OFII تاسو ته ستاسو د **استوګنې لپاره یوه سیمه** په ګوته کوي او همدارنګه د **هستوګنې د هغه مرکز ادرس** به درته هم په ګوته کوي کوم ته چې تاسو باید لاړ شئ. OFII به تاسو ته د **ټرانسپورټ یو ټیکټ** درکوي ترڅو تاسو وکولی شئ د 5 ورځو په اوږدو کې ورته ورسیږئ.

- تاسو د سیمه ایزې لارښوونې وړاندیز رد کولی شئ. د رد کولو په صورت کې، OFII به تاسو ته د بلې استوګنې وړاندیز نه کوي، او نه به تاسو د پناه غوښتونکي لپاره الاؤنس ترلاسه کړئ.

## ← زه د خپلې اسوګنې په سیمه کې له کوم ملاتړ څخه ګټه پورته کولی شم ؟

- کله چې تاسو د لنډمهاله استوګنې مرکز ته ورسیږئ، نو تاسو به د یوی میاشت لپاره د یو **استوګنې** او هم د یو **ټولنیز او اداري ملاتړ** څخه ګټه پورته کوئ.

د دې مودې په جریان کې، تاسو به په ورته سیمه کې د **استوګنې یو مرکز** ته راجع کړل کیږئ، یعني د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې مرکز ته، او یا، د پناه غوښتونکو لپاره د بیړني استوګنځي ته، مګر ستاسو د پناه غوښتنې د پلټنې تر پای پورې(د OFPRA یا CNDA لخوا).

ستاسو استوګنځنې په سیمه کې، تاسو ته به یو **عارضي ادرس** درکړل کیږي، یا د ستاسو د استوګنې جوړښت دننه، یا که تاسو پکې برخه نه اخلئ، نو د هرکلي په ډیپارټمنټ کې موقعیت لرونکي د لومړني استقبال په جوړښت کې.



- د سیمه ایزې لارښوونې د یوې برخې په توګه، تاسو باید د خپلې پناه غوښتنې د پلټنې ټولې مودې پورې **په دې سیمه کې پاتې شئ**، که نه نو تاسو به د استوګنې مادي شرایطو په لړ کې خپل حقوق له لاسه ورکړئ.

د OFPRA او CNDA دفترونو ته د بلنو پرته، ستاسو د استوګنې د سیمې څخه بهر سفر به د **اجازې** تابع وي.

- د سیمه ایز لارښودنې د پلې کولو پورې اړوند هرې **پوښتنې** لپاره، ستاسو د پناه غوښتنې د کرنلارو د موخو لپاره، چې پکې ستاسو عارضي ادرس هم شامل دی، تاسو کولی شئ چې په **کوربه سیمه کې د OFII سیمه ایز دفتر** سره اړیکه ونیسئ.